AIC

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون

د دارالانشا عمومي ریاست

بشري سرچینې

د کارموندنې لارښود

*دا اطلاعیه له لوستلو وروسته لاسلیک او د غوښتنې فورم سره یو ځای یې تسلیم کړئ:*

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون هغو غوښتونکو ته چې د ګمارنې ۳،۴،۵،٦ بستونو سیالۍ کې ګډون کوي خبر ورکوي، چې لاندې موارد په جدي ډول په پام کې ونیسي:

۱) محترمو غوښتوونکو د غووښتنې معیاري فورم اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون له وېب پاڼې ( aic.gov.af ) او د اصلاحات اداري او ملکي خدمتونو له خپلواک کمېسیون تر لاسه کړئ، په پوره مسوولیت او دقیق ډول یې پرته له د قلم چټلۍ ډکه کړئ. د اعلان د پای نېټې څخه مخکې خپل سندونه د لوړو زده کړو وزارت لخوا تایید شویو سندونه، که رسمي دنده ولري د خلص سوانح د صادرېدو نېټې څخه یې شپږ میاشتې نه وي تېرې شوي، که خصوصي دنده ولري د قرار داد خط یې د اقتصاد ، اطلاعات او فرهنګ او ټولو دولتي ادارو پورې اړوندو ادارو تصدیق کړي وي اړوند دفتر ته تسلیم کړي.

۲) هغه نوماندان چې خپل سندونه د برېښنالیک له لارې را استوي باید خپل ټول اصلي سندونه سکن او د یو (PDF) فایل په توګه چې حجم یې له (MB۵) زیات نه وي را ولېږي.

۳) هغه نوماندان چې خپل سندونه نه سکن کوي او د موبایل په وسیله یې عکسونه اخلي او هره صفحه بېله بېله د برېښنالیک له لارې را استوي کیفیت یې ډېر ټیټ وي، نو له همدې امله د منلو وړ نه ده.

٤) که چېرته کوم غوښتوونکی د ملکي خدمتونو د بستونو د ګمارنې په پروسه کې له واسطې او له نفوذ څخه استفاده وکړي د همغه بست د سیالۍ له پروسې څخه وېستل کېږي.

۵) که چېرته په سندونو کې غلط او د واقعیت خلاف معلومات درج شوي وي، غوښتونکی له پروسې څخه وېستل کېږي

٦) هغه غوښتونکې چې تحصلي سندونه او تصدیق کاپي یې د لوړو زده کړو وزارت تایید ولري د غوښتنې فورم سره یو ځای کړي. هېڅ ډول تصدیق، تحصیلي ستاینلیک د پوهنتونو او لوړو موسسو سرتفیکټ چې د لوړو زده کړو وزارت تاییدي ونلري د اعتبار وړ نه دی.

۷) هغه تحصیلي سندونه چې له ۱۳۷۱کال څخه تر ۱۳۸۱ کال پورې صادر شوي وي، د ۱۳۸۵\۱۲\۲۴ نېټې دلوړو زده کړو ۱۸۸ګڼې مکتوب پر بنسټ ایجابوي چې په یاد وزارت کې بیا و ارزول شي.

۸) له سرحد څخه بهر تحصیلي سندونه، د دال سندونو په لرلو او د لوړو زده کړو وزارت په ارزونې او تایید سر بېره د اکاډمیکو چارو د انسجام ریاست مکتوب هم اړین دی.

۹) د لوړو زده کړو وزارت لخوا د سرحدونو څخه بهر موقت تایید شوي سندونه د اعتبار وړ دي، خو غوښتونکی مکلف دی چې خپل تحصیلي سندونه د مصاحبې تر پیلېدو مخکې د ذیصلاح مراجعو لخوا تصدیق وکړي.

۱۰) څرنګه چې د لوړو  زده کړو خصوصي موسسو محترم ریاستونه یواځې د تحصیلي موسسو له ثبت او راجستر څخه تصدیق کوي، ځکه نو ایجابوي چې هغه محترم غوښتونکې چې له خصوصي پوهنتونونو او موسسو څخه فارغ شوي؛ د لوړو زده کړو خصوصي موسسې څخه د سند کاپي د فراغت له مکتوب سره یو ځای د غوښتنې فورم سره ضمه کړي.

۱۱)  هغه محترم غوښتونکي چې په دولتي ادارو کې په رسمي ډول دنده تر سره کوي یا یې مخکې تر سره کړي وي، یو قطعه د خلص سوانح نوې بڼه چې د اداري یا وزارت د واحدونو لخوا صادر شوی وي، د کار وروستي مرجع څخه د کاري تجربې سند په توګه د غوښتنې فورم سره یو ځای کړي. هېڅ ډول خلص سوانح چې د دوهم واحد او ولایت څخه صادر شوی وي د اعتبار وړ نه دی، مګر که د لومړي واحد یعنې وزارت یا اړوندې اداري تایید ولري.

۱۲)  هغه محترم غوښتونکي چې په معتبرو نړیوالو  موسسو کې یې دنده تر سره کړي وي. سندونه او کاري سوابق یې د همغې اداري د بشري سرچینو د څانګې له تایید وروسته د قرارداد کاپي سره د غوښتنې فورم سر یو ځای کړي.

۱۳) ګرانو غوښتونکو د فورم د  تسلیمی په وخت کې پورته یاد شوي موارد په جدي ډول په پام کې ونیسئ، د سندونه کاپي باید روښانه وي تر څو ښه ولوستل شي، پرته له دې نیمګړي ګڼل کېږي. د غوښتنې د فورم له تسلیمی وروسته هېڅ ډول اسناد نه منل کېږي

په شرایطو برابر کسان کولای شي خپل سندونه دغه( hr.aic1398@gmail.com ) بریښنالیک ته واستوي یا په مستقیم ډول یې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د بشري سرچینو امریت ته قلعه فتح الله، شپږم سړک، څلورم کور ته تسلیم کړي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره دغې (۰۷۴۹۳۴۵۷٦۰ ) شمېرې سره په اړیکه کې شئ.

نوټ: د غوښتنې فورم له دې ځای څخه ډانلوډ کړئ د یادولو وړ ده چې فورم پرته له چک لیست څخه نه اخیستل کېږي

د غوښتنې فورمdocx.

چک لیست۱۱